# An Analytical Study: Pashto Tappa and Political Consciousness
# پښتو ټپه کښې د سياسي شعور تجزياتي مطالعه

Usman Ali (Olasyar)[1]

## ABSTRACT

*The political system and politics of a group/society dominate their collective lives. They determine both the strengths (good) and the shortcomings (bad) of the group/society. An active individual of a society foresees the threats and researches the solutions to the problems. Keeping in view the political factors and components, he designs peaceful and political strategies to cope with the crises at hand, and this individual sense of collectiveness constitutes the collective political consciousness of that society. Moreover, the collective wisdom of a society is always reflected in the literature they produce as literature mirrors the concrete and real understanding of society. As Pashto Tappa reflects the life of Pashtun in its wholeness, it also incorporates and analyzes Pashtun political consciousness in its realms. This aspect of Tappa is researched in this dissertation.*

**Key words:** Pashto Tappa, Political System, Political Consciousness, Politics.

[1] PhD scholar, Pashtu Academy, University of Peshawar

# سیاست یوه پېژندګلو

"سیاست" په بنیادي توګه د یوناني ژبې **(Politikes)** عربي اصطلاح ده. ویکي پېډیا د دې په حقله داسې معلومات راکوي.

> “Actual Meaning of Politics, Politics (from Greek: Monituka, Politiag, affairs of the Cities, is the set of activities that are associated with making decisions in groups, or other forms of Power relations among individuals, such as the distribution of resources or status.” (1)

په اصطلاحي توګه سیاست د بالادست او زبرِدست قوتونو تر مینځ د حقونو د جنګ مبارزې ته وئیلے شي.انسان چې د غار د ژوند نه د تهذیب او تمدن تر بامه رسېدو کښې د ژوند د کومو ارتقائي مرحلو نه تېر شوے دے نو د وخت د دغه سفر سره ئې د منشتر ژوند نه پس، د فطري غوښتنو او ذهني ارتقاء سره ځان په خپله د قانون او ریاست په ضابطو کښې شکېل کړے دے. په ټولنیز ژوند کښې ئې د قبائلیت نه تر د مدنیت د ژوند پورې د خپلې جغرافیې، چاپېریال او معروض ترمخه د قدرتي او انساني افاتو د مخ نیوي هلې ځلې کړې دي، مقابلې ئې کړې دي، تجربه او پوهه ئې حاصله کړې ده. او ورسره ورسره ئې د ژوند تېرولو ضابطې وضع کړې دي. دغه ضابطې د سیاسي عمل برخه ده. په دغه لار ئې د حقوقو تعین کړے دے. د ذمه داریو احساس ئې پېدا کړے دے او نړۍ ئې د سائنسي ارتقاء په بام ودرولې ده.

د ترقۍ سره سره ئې کله کله د تخریب عمل ته هم دوام ورکړے دے چې نړۍ ئې د بې چېنۍ سره مخ کړې ده.خو حساسو او امن خوښو خلقو د دغه عمل غندنه کړې ده او د نړۍ د امنیت د پاره اوس هم په انسانیت او ژوند مئین خلق د سیاسي لارو چارو په مرسته د نړۍ د امن او خوشحالۍ لارې لټوي. دې لړ کښې په شرق او غرب کښې یو شمېر سیاسي نظریات او سیاسي فلسفې وضع شوې او مخې ته راغلې دي.

په دغو نظریاتو کښې د څو اهمو نظریاتو لنډه تذکره کولے شي چې د خپل فکري افادیت لهٔ وجې په نړۍ کښې مقبولیت او قبولیت لري. تر ډېره حده ئې د نړۍ په سیاسي عمل چرته مثبت او چرته منفي اثرات پرېښې دي.سیاست څهٔ وي؟ او د دې غرض وغایت څهٔ وي؟ په دې حقله د ویکي پېډیا دا لنډ معلومات د دې د افادیت احاطه کوي چې د مختلفو سیاسي نظریاتو بنیادي فلسفه په اصل کښې دا ده:

> “A variety of methods are employed in politics. Which includes promoting or forcing one’s own political views among people negotiation with other political subjects, making laws and exercising force, including warfare against adversaries. Politics is

exercised on a wide range of social levels, from clans and tribes of traditional societies, through modern local governments, companies and institutions up to sovereign states, to the international level………..

A political system is a framework which defines acceptable political methods within a society.

The history of political though can be traced back to early antiquity, with seminal works such as Plato's republic and Aristotle's Politics in the west, and confuciuses.

Political manuscripts and chankya's Arthashastra in the west."(2)

د سیاست په اړه ختیځ او لویدیځ تصورات:

د وړاندې ذکر شویو ضرورتونو ترمخه په نړۍ کښې وخت په وخت ګڼو پوهانو بېلا بېل نظریات وړاندې کړل چې د خپلې سکالو (موضوع) سره اړونده ځینې اهم نظریات په لنډیز سره دلته ذکر کولے شي.لکه د ځینې نورو اکثرو فلسفو او علومو د سیاسیاتو سرچینه هم د یونان د لرغوني ریاست نه زیږېدلې ده. په وړومبنیو وختونو کښې سیاست هم یو خدائي ودیعت ګڼلے شۀ.

"ما قبل سقراط فلسفه کښې د سیاست او ریاست په حقله قدیم تصور د "هومر" دے چې هغۀ د حکومت په بابله د نظریه تخلیقِ رباني (ډیواین رائټ اف مونارکي) منونکے وۀ.د دې نظر خلاصه دا ده چې حکومت کوونکے به انسان وي خو د خدائي اختیاراتو د ودیعت په سبب به د هغۀ درجه د عام انسان نه برتره وي. د حاکم د حقِ حکمرانۍ او معزولتیا د پاره به اصل الاصول هم خدائي وي. د دې برعکس "هسیوډ" د هومر د دغه نظر مخالف وۀ. هغۀ د متعدد اقتدار اعلیٰ د ذمه واریانو حامي وۀ."(3)

د زوړ یونان په دغه وختونو کښې شپږ پېړۍ قبل مسیح کښې د انتها پسند او سخت ګیر ټولګي لۀ خوا د عوامو په زمکو جبري قبضې او د هغوي د نورو ټولنیزو حقونو تروړنه په زور او شور سره عملي شوي وه. د عام وګړي او وړوکي مزدور ژوند خالص د سرمایه دارو او غټو سوداګرو په رحم و کرم وۀ.

"په دې حالاتو کښې هیسوډ اولنے سړے دے چې د سماجي انصاف او د دې بحران د ختمولو د پاره ئې قلم اوچت کړو. ورسره چې نور همنوا پېدا شول نو د یوناني تاریخ معروف مکتب فکر "ډیلفي" په متحرک او فعال انداز رامینځ ته شو.دې سره سره د یوناني فلسفې په ماقبل سقراط عصر کښې د علم سیاست په حقله تر ټولو فعال او مؤثر عالم او فلسفي "سولن" د سماجي انصاف او اقتصادي قوانینو د پاره د اجتهاد کار ته دوام ورکړو. دې دور او د دې دور دغه اصلاحاتو ته وروستو د یونان تاریخ کښې د "ریفارمېشن" عصر ووئیلے شو. د ډیلفي پېروکارانو د انتها پسندۍ، تعصب، ظلم او هر قسمه زور زیاتي په ضد د مثبت جدید اعتدال نوې نوې لارې پرانستلې. د طبقاتي تقسیم د اعدام د پاره دوي د حدبندۍ او حد برارۍ تصور وړاندې کړو چې هر عمل او هر اقدام د پاره دې یو حد مقرر وي. ورکړۀ راکړۀ او هر څیز دې په یو حد کښې وي. او هم دا تصور وۀ چې وروستو ورته د فیثاغورث پلویانود "فلسفه حدبندي" (ډاکټرائن اف لیمټ) صورت وکړو."(4)

په یونان کښې د علمي بحثونو او نظریاتو منبع او اډانه زیاتره د فلسفې په موضوعاتو ولاړه وه. چې هم د دغه فلسفیانه مباحثو په وجه سائنسي فکر او سائنسي تجرباتو ته هم لاره هوارېدله.

چې په نتیجه کښې ئې د "فیثاغورث" غونډي فلسفې چې د ریاضی د عدد او هندسې په مدد ئې د کائناتو او انساني نفسیاتي تجزیې وړاندې کولې د سیاست د عمل په حقله هم ځانګړے فکر لرلو.

> "د فیثاغورث او د هغه د پلویانو دا سیاسي عقیده وه چې قدرت د حکومت کولو حق صرف نابغه مستیانو ته ورکړے دے، وروستو افلاطون هم چې د فلاسفر حکمران کومه مفکوره وړاندې کړې ده، د فلسفې مؤرخین ګڼې چې دا هم د فیثاغورث د دې نظر بازګشت وۀ.د دې نه علاوه فیثاغورث د درې سوه زلمو یو کلب جوړ کړے وۀ چې ورته به په کښې د فلسفې او سیاست علوم ورزده کول چې دوي به وروستو د حکومت کولو پوره پوره جوګه وي.ارنسټ بارکر لیکلي دي چې د افلاطون د "اکېډیمي" قیام او رواج هم د فیثاغورث د دغه روایاتو بل جنم وۀ، نو دا رنګ د "ګارډئین کلاس" تصور هم فیثاغورثي ثابتېږي".(5)

د فرد اجتماع او ټولنې د تړون رشته چې تردغه وخته د سیاسي فلسفو په مباحثو روانه وه. د هغې منطقي نتیجې په دې ډول مخې ته راتلې چې په منظمه توګه ئې د سیاسي فکرونو په بنیاد د سیاسي نظامونو اوسیاسي فلسفو باقاعده نظریات وضع کړل چې وروستو د عملي سیاستونو د ګونډیزو سازمانونو بنسټونه وګرځېدل.

## د سیاسي شعور پېژندګلو

### د اروا پوهنې لهٔ رویه د شعور پېژندنه

لکه چې ښکاره ده شعور خالص سائنسي اصطلاح نهٔ ده بلکې د سائنس سره سمه فلسفیانه او نفسیاتي اصطلاح ده نو هم په دغه سوب ئې عمومي او منلې یا کوټلې تعریف کول دومره اسان نهٔ دي. دلته د خالص سائنسي تعریف نه اخوا او د خپلې موضوع سره سم د اروا پوهنې لهٔ لارې د دغې اصطلاح جاج اخستلې شي.

د شعور د پاره انګرېزۍ کښې د consciousness توری کارول کېږي چې اصل کښې د لاطینۍ ژبې I conscience. نه ماخوذ دے چې معنی ئې علم یا هم د علم په ذریعه د علم او پوهې خپرېدل دي . په اصطلاح کښې مونږ د اروا پوهنې لهٔ رویه د شعور تعریف داسې کوو.جان لاک د ماډرن اروا پوهنې عالم په ورمبي ځل د شعور په حقله په خپل کتاب Essay Concerning Human Understandingکښې داسې لیکي:

> "هر هغه عمل چې د ادراک لهٔ لارې پوهه او علم راوړي، شعور بللے شي. هم دغه په اصل کښې د خپل ذات په حقله د مکملې خبرتیا او اګاهۍ عنصر دے چې مونږ ترې ځان خبر ساتلے شو". (6)

په اسانو ټکیو کښې داسې وئیلے شو چې هر هغه عمل چې انسان د خپل ځان او د چاپېریال نه خبر ساتي چې دغه ادراک د حسي اعضاؤ پوزې ، غوږونو ، ژبې ، سترګو او پوستکي په کومک او مرسته سر ته رسي .خو ښکاره دي وي چې دغه ادراک د سالم او ناسالم او یا د سم او ناسم په پېمانو تر هغه تللے شي چې تر څو د دغه ادراک د پاره د پوهې بنسټ موجود وي.لکه چې واضحه ده چې یو ماشوم چې خام ذهن لري او هغهٔ د خپل حسي اعضاؤ په ادراک د ځان او چاپېریال ادراک کولے شي خو دغه ادراک به خام وي په دي معنی چې د هغهٔ ذهني ارتقا د پوخوالي د پاره د دغه حسي ادراک سره د تجریدي ( Abstract) ذهن او سوچ ضرورت لري . چې دغه خیال او د شعور سطحي ته بیا abstract thinking وئیلے شي.نو هم په دغه سوب نوموړے اروا پوه جان لاک وړاندي لیکي چې:

> "Locke creates a third term between the soul and the body, and Locke's thought may certainly be meditated by those who, following a scientist ideology, would identify too quickly the brain with consciousness. For the brain, as the body and as any substance, may change, while consciousness remains the same."(7)

په ویکیپیډیا د شعور تعریف داسې ورکړے شوے دے:

> "سادہ سے الفاظ میں تو شعور، اپنے آپ سے اور اپنے ماحول سے باخبر ہونے کو کہا جاتا ہے اور انگریزي میں اسے Consciousnessکہتے ہیں۔ طب و نفسیات میں اس کي تعریف یوں

> کي جاتي هے که؛ شعور اصل میں عقل (mind) کي ایک ایسي کیفیت کو کها جاتا هے جس میں ذاتیت(subjectivity) ، فهم الذاتي-self awareness)، ملموسیه(sentience) ، دانائي (sapience) اور آگاهي (perception)کي خصوصیات پائي جاتي هوں اور ذاتي (oneself) و ماحولي حالتوں میں ایک ربط موجود هو" (8)

په دغه تولو تعریفونو کښې مهمه نکته هم دغه د ځان او د جهان نه باخبره وسېدل دي . اکسفورډ کلینکل سائکاټري لۀ رویه بیا هغه پکښې دومره اضافه کړې ده چې:

> "شعوري هڅې د انسان د شخصیت په جوړؤنه او تشکیل کښې د یو شمېر دفاعي میکانزم ته اړ وي چې دغه میکانیزم بیا د ژوند په بېلا بېلو اړخونو کښې څرګند رول لوبوي او د یو شمېر ذهني او نفسیاتي نارغیو نه انسانان ژغوري" (9)

پښتنو هم د نورو قامونو په رنګ د قبایلیت په بنه د تاریخ په اوږدو کښې ژوند کړے دے. او تر ننه هم د قبائلیت نه په بشپړه توګه لا راوتي نۀ دي.د شلمې پېړۍ په ورستني نیمائي کښې د قامیت څرکونه د خدائي خدمتګار تحریک په بڼه په نظر راځي او ځان د قام په حېث نړۍ ته د معارفي کولو هڅه او کوشش کوي خو مونږ پوهېږو چې خالص قبائلي ژوند کښې هم د قامي او اجتماعي شعور څرکونه په نظر راځي. پښتونولي په خپله د قامي شعور هغه بېلګه ده چې د سوشیالوجي، انتراپالوجي او سیاسیاتو سره په نفسیاتي چوکاټ کښې هم یو بشپړ د اجتماعیت چوکاټ جوړوي . د نرخونو او قدرونو په نامه د اجتماعیت دغه تصور که د قامیت په تعریف پوره هم نۀ خېژي خو دومره ده چې مونږ وئیلے شو چې دغه نرخونه او قدونه، دود دستور ، رسم ورواج او په کلي توګه تهذیبي شکلا دغه دوره د قامیت د تکمیل په لور مزل ضرور دے .

اجتماعي شعور نه پرته هیڅ تولنه مثبته وده او پرمختګ نۀ شي کولے. دغه اجتماعي شعور دے چې د قامي شناخت ټول منظرونه او مزلونه مخې ته ړدي .

اجتماعي شعور د اجتماعي حافظې بنسټ جوړوي او دغه بنسټ بیا د قامونو په شناخت کښې ونډه لري که مونږ د یو قام په باره کښې خپله حتمي رائې مخې ته ړدو نو ارومرو مرو به د هغوي تاریخ، فلسفه، ژوند ژواک، کلتور او تهذیب د مطالعې لاندې راولو پرته د دغه کاره به دا شوني نۀ وي چې مونږ خپلې مخې ته د قام تصور او یو جامع او مکمل تصویر کېږدو.

## سیاسي شعور:

سیاسي شعور په اصل کښې د سیاسي ذهنیت په لور اشاره ده . یعني د ټولنې ټول قشر سیاسي ذهنیت د هغه قشر او قام سیاسي شعور بللے شو. سیاسي شعور د ټولنې د تخریب او تعمیر ، ورانی او ودانی ، پرمختګ او شاتګ ، اسانی او ګرانی د پوهې یو مستقل او دوام داره عمل دے. د انسانانو کلهمې مسلې او ستونځې سیاسي وي که څۀ هم دغه ستونځو او ورانیو، بربادیو ته مونږ د توضیح او تشریح د پاره مختلف نومونه او اصطلاحات کارولے شو خو په مجموع کښې د دغه ټولو ستونځو رګ او ریښه په سیاست کښې موندلے شي .د بیلګې په توګه که مونږ د تعلیم د یو ماهر نه دا خبره واورو چې د وطن تعلیمي کچه په تېرو څو کلنو کښې ټیټه او یا هم لوړه شوې ده نو دغه عمل ته مونږ تعلمي پرمختګ او یا هم تعلیمي شاتګ اصطلاحات کاروو خو په مجموع کښې به بیا هم مونږ داسې وایو چې دغه تعلمي زوال او ترقی دغه سوال نېغ په نېغه د سیاسي عمل نتیجه ده .د ریاست پالیسي د تعلیم په اړه شه ده او یا هم بده ده .د زوال په اړه به سیاسي پوهان د دغه تعلیمي پالیسی جاج او تحقیق کوي او بیا به د سیاسي لارې نه داسې پالیسي جوړوي چې دغه تشه پوره کړي .

سیاسي شعور په اصل کښې سیاسي ذهنیت دے او دغه ذهنیت د سیاسي پوهې او په تاریخ کښې د دغه پوهې مکمل ادراک او پېژنګلو ده . اکیډمیک توګه مونږ دغه خبره داسې کولے شو چې:

"Political consciousness is one’s political state of mind. This state of mind is based on the personal awareness of politics, position in the political system and history, and actions one perceived as available to take in an effort to influence the political reality in which one operates. Political consciousness is closely related to the concepts of political identity, political participation, political culture, and the idea of social contract between the people and the government." (10)

سیاسي شعور په اصل کښې د سیاسي ټولنې او فرد ترمینځ بنیادي اړیکو باندې مشتمل وي . قام پرستي تر ټولو ستره قامي شعوري ډومین او هڅه ګڼلے شي. د قوم پرستی سره مذهب هم د ابتدائي سیاسي شعور د ماخذ په توګه په ډېرو ټولنو کښې شتون لري .

د نوموړي فلاسفر کارل مارکس په نظر د شعور هر قسم په اصل کښې سیاسي شعور وي. یا په نورو ټکیو د شعور ټول قسمونه د سیاسي شعور نه سرچینه اخلي .دغه سیاسي شعور په اصل کښې د اقتصادي سیاسي حالاتو پېداوار وي چې دغه اصطلاح کارل مارکس politic economic circumstances یعني "سیاسي اقتصادي کړنې" بولي. سیاسي شعور د رغونې د پاره مارکس دوه څېزونه مهم ګڼي یو شخصیت ( ځان ) او دویم طاقت یعني

پاور . د شتمنیو او طاقت تقسیم دوه داسي راښکونکي قوتونه دي چې د سیاسي شعور تشکیل تري سرچینه اخلي.دغه د طاقت او شتمنیو تقسیم چې کله هم د نظریاتي اساس بڼه غوره کړي ده نو یو نۀ ختمېدونکے جمود زده ئې status quo مینځ ته راوړي ده . چې دغه کېفیت او حالات که مذهب منونکیو منل دي او یا هم د کارخانو کارکوونکي د داسي حالاتو نه تېر شوي دي نو هغوي په پټو سترګو دغه هر څۀ منلي دي او د شعور حصه ئې ګڼلي دي چې د مارکس د فکر د مخې دغه شعور ته هغه دروغژن شعور false consciousness وائي .

د دروغژن شعور دغه اصطلاح هم په اصل کښې د سیاسي شعور یو شکل لري چې د دغه حالاتو سره یو شمېر نۀ ختمیدونکې ستوتځې راولاړېږي او مارکس دغه شعورد طاقت او د شتمنیو په تقسیم کښې د انصاف په پائله کښې د رشتني سیاسي تصور فکر ته خلق رابلي. تر څو عام اولس د دغه دوغژن شعور نه راوځي دغه ټول بتان مات کړي او په خپل وطن کښې د طاقت په تقسیم سره سره د خپل وطن او جغرافیې مقدمه په سیاسي حرکت مخې ته کېږدي .

سیاسي شعور د پاره چې کوم دوه لازم توکي مارکس ټاکلي دي دغه په اوسنی نړی کښې هم په پوره اب وتاب شتون لري اوجنوین او سوچه سیاسي ورکران د دغه پر ضد خپل سیاسي لارې چارې پر مخ بیائي .

دسیاسي شعور په اړه نوموړے سیاسي پوهاند Divya P. Tolia-Kelly لیکي :

> The process of praxis commences with a sense of political awareness beyond an understanding of individual needs and struggles. In the workplace the distinction can be made between individual awareness of others' rights and an understanding of collective positioning and solidarity; praxis is the actions undertaken towards attaining better conditions for all. Praxis has been discussed as the pragmatic actions that create the circumstances from which we can challenge hegemonic ideas and also recognize them as not being in collective interests. (11).

داسې مونږ وئیلے شو چې سیاسي شعور یو جامع او هر اړخیز ادراک دے چې په کښې ګڼ شمېر نور اجزا او عناصر هم شامل دي. تاریخي شعور، ټولنیز شعور، اقتصادي شعور، جنګي مبارزې،تهذیبي شعور، مذهبي مبارزې، قام پرستي او قامي شعور او ګڼ شمېر نور محرکات چونکې سیاسي پس منظر لري او د سیاست سره نېغ په نېغه تعلق هم لري نو ځکه دا هم د سیاسي شعور مهمې برخې دي.پښتو ټپه د نورو ګڼ شمېر رنګونو په شمول د پښتنو د سیاسي شعور هم عکاسي په ښۀ شان کوي.

**د پښتنو قامي، اتلانو، مشاهیرو، شاعرانو، مفکرینو او په دغه بهیر کښې په مجموعي توګه د ټول افغان اولس د ملت پالنې فکري او شعوري جذبه د مبارزې او علمي مکتب ته د تورې او قلم په شکل بخښنې ډېرې**

زياتي او پربمانه دي .دلته زمونږ غرض د پښتنو اتلانو د کارنامو يا حکومتي دوروتذکره نۀ ده، بلکي بنيادي مقصد هغه جذبه محرکه ده چې د عام وګړي نه نيولي تر قامي مشرانو پورې هر کس ئې د قام پالني مبارزې او جذبې ته راګمارلے دے.

په دې لړ کښې د پښتون وطن د سياسي تجزئې او تذکرې په وخت د دې خاورې د فطري جغرافيائي جوړښت اهميت هم نظر کښې ساتل پکار دي ځکه چې هم دغه بنيادي نکته ده چې دا خاوره ترې تر دا وخته په ارام شوې نۀ ده. په دې تناظر کښې د احمد شاه ابدالي تذکره د پښتون وطن د نړيوال سياست په نويو تشکيلاتو کښې ځانګړے مقام لري. چې پښتو ټپه ئې داسې ذکر کوي:

اسمان به خود زما په خوا وي
چې د احمد تر بېرغ لاندې جنګ له ځمه (12)
د رنجيت سينګه لښکر راټول شو
د احمد شاه لښکر به څوک راټولوينه (13)

دا رنګې په پښتو ټپه کښې د ميروېس خان د دور سياسي شعور داسې تر سترګو کېږي:

حاجي ميروېسه جنتي شې
مونږ د ګرګين له ظلمه تاخلاص کړي يونه(14)
ميروېس د مرګ په جېل بندي شۀ
اوس به جرګې د پښتون څوک راغونډوينه (15)

د دې تر څنګ يو شمېر نور داسې اتلان او کردارونه هم په ټپه کښې موجود دي چې د دې خاورې سياست ئې متاثره کړے دے.

د اکبرخان غازي په توره
وطن رڼا شو دشمنان په ماتې ځينه(16)
د جندول خان عمراخانه
ډېرې دې کونډې کړې شېرې درته کوينه(17)
د ملاکنډ بازاره وران شې
تا کښې خرڅېږي د رامداد د کور شالونه(18)
چې رامداد خان دې وويشتلو
ټوپکه مات شې د لوهار په سندانونه(19)
د مير زمان مغلي لونه
د سر کاڼو په ډاک کښې وړې ټولوينه(20)
په سنډا سر کښې ئې حلال کړو
ظالم جعفر په چمني خان وکړل ظلمونه(21)
د ارسلاخان قجيرې لونه
اوس د باټې په مخکښې ځي سرتور سرونه (21)
دپجي ګرام ملک ته وايه
ډېرې دې کونډې کړې شېرې درته کوينه(22)

په مذکوره ټپو کښې د هغو کردارونو ذکر شوے دے چې په ځۀ نۀ ځۀ شکل کښې ئې د پښتنو د وطن سياسي حالات متاثره کړي دي،که ځۀ هم د دوي ذکر د جنګونو په حواله کېږي او دا ټپې په عمومي توګه حماسي ټپې بللے شي خو لکه چې ښکاره ده د هر جنګ يو سياسي پس منظر وي او د

دي شعور هم د سياسي شعور برخه وي او ټپې دا رنګ هم د ټپې د سياسي شعور په ښهٔ شان ترجماني کوي.
د دې تر څنګ په پښتو ټپه کښې د هغهٔ جنګونو ذکر او تاريخ هم خوندي شوے دے چې په مختلفو وختونو کښې په دې خاوره شوي دي او دا مزاحمت هم خپل سياسي پس منظر او سياسي تناظر لري او ټپه کښې د دې تذکره د ټپې سياسي شعور ته نور معنويت او ژورتيا بخښي:

د امبېلې کيډرِ ځاربهٔ شو
خوراک ئې څهٔ وهٔ د کورؤ لرمونونه(23)
په ملاکنډ تيارې خورې شوې
هارونه توره برېښوه چې رڼا شينه(24)
د اکبر خان غازي په توره
وطن رڼا شو دشمنان په ماتې ځينه(25)
خوشحاله مهٔ شئ فېرنګيانو
اجون خان مړ شو اکبر خان دې خداے لرينه(26)

د ازادۍ احساس او د ازادۍ په خاطر سخته برداشت کول او مبارزه کول ډېر ګران کار دے او دې ته خلق اماده کول هم سياسي عمل دے او دغه کار د سياسي شعور نه بغېر ممکن نهٔ دے. ټپه کښې دغه شعور هم موجود دے:

خوب مې ليدلے دے پښتونه
د خدائے په فضل زلمي ملک ازادوينه(27)
د ازادۍ ونه ګورېږي
که ظالمان ترېنه هر څو ځانګې وهينه(28)
د ازادۍ ناوې جوړېږي
هر يو زلمے ناري وهي زما دې شينه(29)

مېړمنې د ټولې نړۍ په کچه د ابادۍ يو غالبه برخه ده او تر څو چې د يو قام په مېرمنو کښې سياسي شعور نهٔ وي نو قامي ګټې تر لاسه کېدل ممکن نهٔ وي.پښتو ټپه د پښتنو مېرمنو د سياسي شعور دا سې عکاسي کوي:

که ننګيالي زلمي په شاشو
فخر افغانه جينکۍ به دې ګټينه(30)
د ازادۍ معشوقه وائي
د غلامۍ يار ته خولګۍ نهٔ ورکوومه(31)

په نني سياسيت کښې د اکثريت د اهميت نه څوک هم انکار نهٔ شي کولے ځکه چې نن په نړۍ کښې د جمهوريت زمانه ده او جمهوريت د اکثريت په بنياد سياسي ګټې مينځ ته راوړي.دغه احساس د ټپې د سياسي شعور برخه ده:

پښتانهٔ ټوله يوتبردے
ورک دې نفاق شي چې به دوي جداکوينه (32)

د قام وګړي قامي خدمت ته تيارول يو لويه سياسي مبارزه ده او سياسي شعور نه بغېر داسې ممکن نهٔ دي.د ټپې سياسي شعور خپل دا رنګ داسې ښکاره کوي:

دريم ارمان به درته وايم

پاڅه د قوم د پاره وکړه خدمتونه(33)
د وطن باغ به پرې سمسور کړم
د بدن وینه له وطنه ځاروومه(34)
د پښتون وطن موجوده حالات او بد امني او د پښتنو بده ورځ او مالي جاني زیان یو اوږود او پېچلے سیاسي شا لید لري او تر څو چې په دې سیاسي پس منظر پوهه نهٔ وي حاصله شوي تر هغې په دې حالاتو پوهېدل ګران دي.ټپه د موجوده دور دغه ناورین له هم په خپله پراخه لمن کښې ځاے ورکوي چې د ټپې د سیاسي شعور کوټلے ثبوت دے:
نوري د هیچا کډې نهٔ ځي
دا یو پښتون دے کډې شکته پورته وړینه(35)
د پښتنو مشران نشته.
په هر سنګر باندې بې ځایه ځکه مرینه(36)
هندوستانے مې دې مېړهٔ وي
په پښتنه خاوره دوه ځله کونډه شومه(37)
محصل شهید شه فارغ نهٔ شهٔ
مور ئې په چغو ټول کړل کتابونه(38)
زما د کلي قسمت خوار دے
چې ونې شنې شي زمکه سرهٔ په وینو شنه(39)
د سحر باده په ارام ځه
د پښتونخوا غرونه زخمي دي خوږ به شینه(40)
د پښتنو په خاوره د بل شوي اور چې سیاسي وجوهات لري په پښتون قام معاشي او نفسیاتي کوم اثرات پرېوځي، د دې اندازه هم د سیاسي شعور نه بغېر نهٔ لګي او ټپه دغه اثرات هم په خپله لمن کښې رانغاړي چې تري د ټپې د سیاسي شعور د وسعت اندازه په اسانه لګي:
چا مې پلو لیدلے نهٔ وهٔ
نصیب کنجرې کړم په حجرو مې ګرځوینه(41)
چا یې پلؤ لیدلے نهٔ وه
هغه بیبیانې په چکړه لارې کښې ځینه(42)
چا ئې پلؤ لیدلے نهٔ وهٔ
اوس د کابل په لوري ځي سرتور سرونه(43)
سهار بېګاجونې کونډېږي
د وطن ژنې بدبختې اخیستې دینه(44)
په ما به هغه ورځ اختر وي
چې د بارودو لوګې ورک له ملکه شینه(45)
زهٔ وږے نهٔ یم خوراک یوسه
زهٔ جنګ ځپلے یم زخمونه مې ګنډمه(46)
خلق کالي کوي اختر دے
زهٔ د شهید جامې په لاس کښې ګرځوومه(47)
تور قاتلان توري تیارې دي
د ماسخوتن مانځه له مهٔ اوځه مئینه(48)
چې لر او بر چاودنه نهٔ وي
پښتانهٔ هغه ورځ اختر حسابوینه(49)

د دې ټولو بېلګو نه دا خبره ثابتېږي چې پښتو ټپه د تاريخ د اوږدو نه د کوټلي سياسي شعور حامله ده او د وخت تېرېدو سره سره دغه شعور نور هم زور شوے دے او ځنګ چې د پښتنو په سياست او سياسي حالاتو کښې بدلون راغلے دے نو دغه بدلون هم د ټپې د سياسي شعور برخه ګرځېدلې ده.

## حوالې:


1. https://en/.m.wikipedia.org Accessed on. 25-5-2022. 8:46 a m.
2. http://wikipedia.org/wiki/political Accessed on 25-05-2022. PST. 6:49 PM
3. ارمان، سميع الدين، تنقيق، کوټه، پښتو ادبي غورځنګ ، دسمبر، 2018 م، مخ 111
4. هم دغه، مخونه 111،112
5. هم دغه، مخ 115
6. https://psychology.fandom.com/wiki/Conscience Accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
7. https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC3115296 accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
8. https://ur.m.wikipedia.org/wiki/عقل accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
9. Oxford clinical psychiatry 2nd edition 2020 accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
10. Encyclopedia of Quality of Life and Well-Being Research 2014Edition accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
11. Editors: Alex C. Michalos University of Sussex · Department of Geography Divya P. Tolia-Kelly PhD University of London BA (hons) Nottingham 199 Accessed on. 25-5-2022. 8:46 a m.
12. جهان عالم، ډاکټر، پښتو ټپه او تلميحات"، پښتو اکېډمي کوټه، اګست 2013ء، مخ 201
13. مطيع الله تراب، مرکه ( مخ په مخ)، کابل افغانستان، 7/7/2017
14. جهان عالم، ډاکټر، پښتو ټپه او تلميحات، مخ 203
15. هم دغه.
16. **سلمی شاهين،روهي سندرې دوېم ټوک،پېښور، پښتو اکېډيمي،١٩٩۴،مخ 179**
17. **ډاکټر جهان عالم، پښتو ټپه او تلميحات، مخ 185**
18. **هم دغه، مخ 193**
19. **هم دغه**

**20.** هم دغه، مخ 205

21. هم دغه، مخ 208

**22.** محمدنواز طاهر، ټپه او ژوند،پېښور، پښتو اکېډيمي،۱۹۸۰، مخ 203

**23.** سلمي شاهين،روهي سندرې اول ټوک، پېښور، پښتو اکېډيمي،۱۹۸۴،مخ۲۹۱

24. هم دغه، مخ۱۵۰

**25.** سلمي شاهين،روهي سندرې دوېم ټوک، مخ 179

**26.** ډاکټر، سلمى شاهين،روهي سندرې دوېم ټوک، مخ 175

**27.** داورخان داؤد،پښتو ټپه،دوېم ځل ،بنو.سرائے نورنګ،۱۹۸۴،مخ99

**28.** يار محمد، مغموم، خټک،د ازادئ تحريک او پښتو شاعري،ندارد،۲۰۰۷ مخ 111

**29.** سلمي شاهين،روهي سندرې دوېم ټوک ،مخ 289،

**30.** وقارعلي شاه، پښتنې ښځې او دقام خدمت.پېښور، باچا خان ريسرچ سنټر، مخ نمبر 182

**31.** سلمى شاهين،روهي سندرې دوېم ټوک، مخ 289I

32. سلېمان لائق او مجاور احمدمومند (مؤلفين) ،پښتولنډۍ،کابل، د افغانستان د علومو اکېډيمي،۱۳۶۳ هـ ش ،مخ 47

**33.** هم دغه،مخ 201

**34.** هم دغه،مخ

**35.** خټک لاداعhttp./youtube/Dvv6FYyx4B4 P.S.T:7:5Pm

36. امجد شهزاد، مرکه (مخ په مخ) تانه، مالا کنډ،6/6/2020

37. هم دغه

**38.** د شوکت سواتي، مرکه (مخ په مخ) ، پېښور،7/8/2021

**39.** طارق خان،پښتون يار،مرکه ( مخ په مخ) ، 4 دسمبر 2020ء

**40.** اخترإقبال، مرکه ( مخ په مخ) ، 4 دسمبر 2020ء

**41.** انجينئرمومند، مرکه (ټيلي فوني) 7 دسمبر 2020ء

42. هم دغه

43. هم دغه

**44.** مظهرازاد، مرکه (مخ په مخ) ،خوازه خېله، سوات،7 دسمبر 2020ء

**45.** نظار يوسفزے، مرکه (ټيلي فوني) ،12 جنوري 2020ء

**46.** عصمت علي اخون، مرکه (مخ په مخ) ،مينګوره، سوات،17ستمبر 2020ء

47. هم دغه

**48.** ډاکټر سلطان روم ،ټپې،سوات، شعيب سنز اينډ پبليشرز، ۲۰۱۸مخ 72

**49.** هم دغه،مخ 104

1. https://en/.m.wikipedia.org Accessed on. 25-5-2022. 8:46 a m.
2. http://wikipedia.org/wiki/political Accessed on 25-05-2022. PST. 6:49 PM
3. Arman, Sami Ul din, Tanqeeq, pukhto adabi Ghurzang, Dec,2012, p111
4. Hum dagha kitab, 111, 112
5. Hum dagha, kitab, 115
6. https://psychology.fandom.com/wiki/Conscience Accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
7. https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC3115296 accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
8. https://ur.m.wikipedia.org/wikiعقل/ accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
9. Oxford clinical psychiatry 2nd edition 2020 accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
10. Encyclopedia of Quality of Life and Well-Being Research 2014Edition accessed on 30-5-2022 PST 7:00 PM
11. Editors: Alex C. Michalos University of Sussex · Department of Geography Divya P. Tolia-Kelly PhD University of London BA (hons) Nottingham 199 Accessed on. 25-5-2022. 8:46 a m.
12. Jahan Alam,Dr, Pakhto Tapa aw talmehat, pakhto academy, 2013, p201
13. Mati Ullah turab, maraka Kabul aghanistan, 2017
14. Jahan Alam, pakhto Tapa aw talmehat,p203
15. Hum dagha,
16. Salma shahen, Rohi Sandary, Dwem Tok, pakhto acadmy, 1994, p179
17. Jahan Alam, pakhto Tapa aw talmehat, p185
18. Hum dagha, p193
19. Hum dagha
20. Hum dagha 205
21. Hum dagha 208
22. M. Nawaz Tahir, pekheawer pakhto academy, 1980, p203
23. Salma Shaheen Rohi Sandary awal Tok, pakhto acadmy, 1984, p291
24. Hum dagha p150

25.Salma shaheen Rohi Sandary, dwem Tok, 179
26.Salma Shaheen, Rohi, dwem Tok, p175
27.Dawar khan Dawod, pakhto Tapa dwem zal, Banu, 1984, p99
28.Yar Muhmmad Maghmom, da azadai tahreek aw Pashto shairi, p111
29.Salma Shaheen, Rohe sandary, 289
30.Waqar Ali Shah, Pukhtany Khazy aw da qam khedmat, Bacha Khan research center, p182
31.Salma Shaheen, Roohe Sandary, p289
32.Sulaiman laiq, Majawar ahmad muhmand, pakhto landay, P47
33.Hum dagha, p201
34.Hum dagha
**35.عادل خټک http./youtube/Dvv6FYyx4B4 P.S.T:7:5Pm**
36.Amjad Shehzad, Maraka, makh pa makh, MkD 2020
37.Hum dagha
38.Shaukat Sawati Maraka, makh pa makh maraka pekhwer 2021
39.Tariq Khan Pakhtonyar, makh pa makh maraka pekhwer 2020
40.Akhtar iqbal, makh pa makh maraka pekhwer 2020
41.Engneer Muhmand, makh pa makh maraka pekhwer2020
42.Hum dagha
43.Hum dagha
44.Mazhar azad, makh pa makh maraka khawaza Khela, 2020
45.Nizar Yousaf zay, makh pa makh maraka , 2020
46.Asmat Ali Akhun, makh pa makh maraka Mengawra Sawat, 2020
47.Hum dagha,
48.Dr Sultan Room, Tapy, Shouaib Sons sawat, 2018, P72
49.Hum dagha, 104